

ABAADI ONLINE WEEKLY

د اقتصـــادي او ټـــولنيزو مسايلـــو په برخـــه کـــې

د رياســـت الوزراء اقتصادي معاونيت خبري اوونيزه

اباډي اوونيزه

هفته نامـه آبـادی

ګـڼــه: ۱۸ | مسلسل نمبر: ۶۰

شنبه، د صفرالمظفر ۱۳مه، ۱۴۴۶ هـ. ق کال

## د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال د ترکمنستان د بهرنيو چارو له وزير سره د ويډيو کنفرانس له لارې خبرې وکړې



2 صفحه

## معاون اقتصادی رياست الوزراء با اعضای شورای علمای ولايت نيمروز ديدار نمود



2 مه صفحه

## محترم ملا عبدالغنی برادر آخند با سرمايه گذاران ايرانی ديدار نمود



3 مه صفحه

## سرليکنه



د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د روان لمريز کال د اسد مياشتې په ۱۸مه د ويډيو کنفرانس له لارې د ترکمنستان د بهرنيو چارو وزير سره د دوه اړخيزو سياسي، اقتصادي او سوداګريزو اړيکو ترڅنګ د افغانستان په خاوره کې د تاپي پروژې د عملي کېدو د لارو چارو، تورغنډۍ بندر کې د رېل پټلۍ سټېشن د پراختيا، ترانزيټ او ټرانسپورټ په برخه کې د اسانتياوو د رامنځ ته کولو په اړه هراړخيزې خبرې وکړې. د ترکمنستان د بهرنيو چارو وزير وويل، هېواد يې چمتو دی چې له افغانستان سره د خپلو سياسي او اقتصادي اړيکو پراخولو په موخه په نږدې راتلونکي کې د افغانستان په خاوره کې د تاپي پروژې کارونه پيل کړي. همداراز نوموړي په افغانستان کې د برېښنا او رېل پټلۍ شبکې په برخه کې د پانګونې يادونه هم وکړه.

ننني نړۍ کې د ګلوبلايزيشن(نړيوالتوب) په برکت نړيوال اړيکي ډېر پراخ شوي او هېوادونه په بېلا بېلو برخو کې د دا ډول اړيکو ټينګولو ته ليواله دي، ځکه دا ډول اړيکي د يوه هېواد په اقتصادي، سياسي، او ټولنيز پرمختګ کې مهم رول لري. له نورو هېوادونو سره د سوداګرۍ او اقتصادي همکاريو له لارې، يو هېواد کولی شي خپل محصولات او خدمات نړيوالو بازارونو ته وړاندې کړي. د صادراتو او وارداتو په زياتېدو سره اقتصادي وده چټکتيا مومي او د عايداتو کچه لوړېږي. همدارنګه د نړۍ له نورو هېوادونو سره اړيکي ټينګول د بهرنۍ پانګونې جلبولو لپاره هم مهم دي. ددې ترڅنګ که چيرې يو هېواد د نړۍ له نورو هېوادونو سره اړيکي ولري، نو کولای شي، د طبيعي افتونو، قحطيو او دې ته ورته نورو پېښو پرمهال انساني مرستې ترلاسه کړي. نړيوالي اړيکي د پرمختيايي مرستو لپاره هم ارزښتناکي دي. د نړيوالو سازمانونو او پرمختللو هېوادونو سره د همکارۍ له لارې، يو هېواد کولی شي د بيارغونې او پرمختيا لپاره مالي او تخنيکي مرستې ترلاسه کړي. دا مرستې د زېربناوو جوړولو لپاره ګټورې دي.

اسلامي امارت تل هڅه کړې چې خپلې نړيوالي اړيکي پراخې کړي او پرمټ يې د افغانستان اقتصاد پياوړی، بهرنۍ پانګونه راجلب، د اقليمي بدلونونو له امله د اوښتو زيانونو او د همدې اړيکو له لارې د زيربناوو د رغونې او پرمختيا په برخه کې مرستې ترلاسه کړي. خو ځينې هېوادونه د خپلو سليقو له مخې نه غواړي له افغانستان سره اړيکي عادي کړي، ولې ځينې هېوادونو بيا د اسلامي امارت بهرنۍ سياست درک کړی او هڅه کوي چې له افغانستان سره خپل اړيکي پراخي کړي. ددې هېوادونو له جملې څخه يو هم ترکمنستان هېواد دی. د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال او ترکمنستان هېواد د بهرنيو چارو وزير ترمنځ په خبرو کې د نورو موضوعاتو ترڅنګ يوه مهمه موضوع د تاپي پروژه وه چې خبرې پرې وشوې. د ترکمنستان د بهرنيو چارو وزير ژمنه وکړه چې په نږدې راتلونکي کې به د افغانستان په خاوره کې د تاپي پروژې عملي چارې پيل کړي. د تاپي د ګازو نل‌ليکه د افغانستان لپاره يوه ستره اقتصادي لاسته راوړنه ده. افغانستان به د دې نل‌ليکې د حق العبور له لارې په کال کې شاوخوا ۴۰۰ ميليونو ډالرو پورې عايد ترلاسه کړي. دا راز به په غير مستقيم ډول دا پروژه د اقتصاد په وده کې د خلکو د عوايدو په زياتوالي، د بې‌کارۍ د کچې په راکمولو، صنعت، په هېواد کې د ګازو د بيې په راټيټولو، په منځنۍ او سويلي اسيا کې د افغانستان پر اقتصادي او ستراتيژيک موقف او اهميت ښه اغيز وکړي.


ABAADI ONLINE WEEKLY
د اقتصادي او ټولنیزو مسایلو په برخه کې
د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت خبري اوونیزه
اباديـ اوونیزه
هفته نامه آبادی


# د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د ترکمنستان د بهرنیو چارو له وزیر سره د ویډیو کنفرانس له لارې خبرې وکړې

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د روان لمریز کال د اسد میاشتې په ۱۸مه نېټه د ویډیو کنفرانس له لارې د ترکمنستان د بهرنیو چارو وزیر سره پر دوه اړخیزو سیاسي، اقتصادي او سوداګریزو همکاریو سربېره د افغانستان په خاوره کې د ټاپي پروژې د عملي کېدو د لارو چارو، تورغنډی بندر کې د رېل پټلۍ سټېشن د پراختیا، ترانزیټ او ټرانسپورټ کې د اسانتیاوو د رامنځ ته کولو په اړه هراړخیزې خبرې وکړې.

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال د خپلو خبرو پر مهال وویل، اسلامي امارت او ترکمنستان په سیاسي او اقتصادي برخه کې ښې اړیکې لري او دواړه لوري باید د دغو اړیکو د لا پراختیا لپاره هڅې وکړي. محترم ملا صاحب زیاته کړه، افغانستان او ترکمنستان په مختلفو برخو کې مشترکې ګټې لري چې اوسمهال یې د ترلاسه کولو لپاره ښه زمینه برابره شوې ده. د



محترم ملا صاحب په خبره، د افغانستان اسلامي امارت اقتصاد محوره بهرنۍ سیاست تعقیبوي چې اساسي تمرکز یې پر سیمه ییز اتصال دی او دې موخې ته د رسېدو لپاره د سیمې او په ځانګړې توګه ترکمنستان همکارۍ ته اړتیا لري.

د ترکمنستان د بهرنیو چارو وزیر د افغانستان او ترکمنستان دوستانه اړیکو ته په اشارې سره وویل، هېواد یې چمتو دی چې له افغانستان سره د خپلو سیاسي او اقتصادي اړیکو پراخولو په موخه په نږدې راتلونکي کې د افغانستان په خاوره کې د ټاپي پروژې کارونه پیل کړي. همداراز نوموړي زیاته کړه چې هېواد یې په پلان کې لري په افغانستان کې د برېښنا او رېل پټلۍ شبکې په برخه کې پانګونه وکړي.

محترم ملا صاحب وویل چې دواړه هېوادونه به په مختلفو برخو کې د یو لړ شریکو موضوعاتو په اړه ګډ کار ته ادامه ورکوي، ترڅو د دواړو هېوادونو لپاره له رامنځ ته شوو فرصتونو څخه اعظمي ګټه پورته شي.

په پای کې د ترکمنستان بهرنیو چارو وزیر د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند ته له ترکمنستان څخه د لیدنې بلنه ورکړه تر څو په مناسب وخت کې دغه هېواد ته سفر وکړي.

# معاون اقتصادی ریاست الوزراء با اعضای شورای علمای ولایت نیمروز دیدار نمود



محترم ملا عبدالغنی برادر آخند معاون اقتصادی ریاست الوزراء ۲۰ اسد سال جاری خورشیدی در دفتر کارش که وزرای امور خارجه، مخابرات و تکنالوژی معلوماتی، آب و انرژی و رئیس شرکت برشنا نیز حضور داشتند، در دیدار با اعضای شورای علمای ولایت نیمروز مشکلات آنان را استماع نمود.

اعضای شورای علمای ولایت نیمروز با ستودن امنیت سرتاسری در کشور افزودند که مردم نیمروز با تمام قوت خود از امارت اسلامی افغانستان اطاعت و حمایت می کنند. آنان علاوه بر زرنج مرکز نیمروز برق رسانی به ولسوالی های دوردست، دسترسی به آب آشامیدنی پاک، تقویت شبکه های مخابراتی در زرنج و توسعه شبکه های مخابراتی به مناطق دور افتاده، تامین آب مورد نیاز برای زراعت، مشکلات سرحدی و یک سلسله مشکلات دیگری را نیز با معاون اقتصادی ریاست الوزراء در میان گذاشت.

معاون اقتصادی ریاست الوزراء گفت، هم اکنون در کشور در سکتورهای مختلف پروژه‌ها آغاز شده و تسهیلات بیشتری نسبت به گذشته به هموطنان مهیا گردیده است. به گفته محترم ملا صاحب، پس از گذشت بیش از چهار دهه، به کشور فرصت ابادی فراهم شده، اما برخی مشکلات از گذشته به انها به میراث مانده که رسیدگی به همه این مشکلات نیاز به زمان و منابع است، امارت اسلامی به هموطنان خویش تعهد می نماید که با در نظر داشت اولویت های شهروندان به تدریج به تمامی مشکلات آنان رسیدگی خواهد شد.

در حضور داشت محترم ملا عبدالغنی برادر آخند، مشکلات مطرح شده ای اعضای شورای علمای ولایت نیمروز به وزارت ها و ادارات ذیربط ارجاع و از آنان خواسته شد تا با استفاده از امکانات موجود، به مشکلات یاد شده رسیدگی نمایند.



ABAADI ONLINE WEEKLY

د اقتصادي او ټولنیزو مسایلو په برخه کې
د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت خبري اوونیزه

ابادي اوونیزه
هفته‌نامه آبادی


# محترم ملا عبدالغنی برادر آخند با سرمایه گذاران ایرانی دیدار نمود

محترم ملا عبدالغنی برادر آخند معاون اقتصادی ریاست الوزراء 22 ام اسد ۱۴۰۳ خورشیدی در دفتر کارش با تعدادی از سرمایه گذاران ایرانی دیدار نمود. در این دیدار سرمایه گذاران ایرانی در استخراج و پروسس معادن آهن در افغانستان، تولید برق خورشیدی، توسعه شاهراه ها و شبکه راه اهن، ایجاد کارخانه های صنعتی معیاری و همچنان ایجاد ساحه ویژه صنعتی بین دو کشور علاقمندی خود را برای سرمایه گذاری در این بخش ها نشان دادند.

به همینگونه سرمایه گذاران ایرانی افزودند که افغانستان به کشوری مناسب برای سرمایه گذاری تبدیل شده است و آنها آمادگی دارند در این زمینه ها سرمایه گذاری کند، تجربه ها خود را شریک سازند و به منظور ارتقا ظرفیت افغان ها در کشور خود زمینه آموزش فراهم نماید.

سپس معاون اقتصادی ریاست الوزراء از علاقمندی سرمایه گذاران ایرانی برای سرمایه گذاری در سکتور های مختلف در افغانستان استقبال کرد و از هرگونه همکاری امارت اسلامی در این زمینه اطمینان داد. محترم ملا صاحب افزود، وزارتخانه ها و ادارات ذیربط در زمینه های مربوطه با آنها همکاری و از نزدیک کار خواهند کرد.







# د کابل او عشق آباد
## دوه اړخیزو اقتصادي اړیکو ته کتنه

لیکوال: امان‌الله حنیفي

**سریزه**

نن ورځ په نړۍ کې قوي اقتصاد د قوي سیاسي دریځ ترلاسه کولو لپاره لومړنی او اساسي شرط دی. هغه هېوادونه چې قوي اقتصاد لري په مستقیم او غیر مستقیم ډول د نړۍ او سیمې سیاست ته داخل شوي او هلته بیا د خپلو ټولو ګټو حفاظت کولی شي. قوي اقتصاد ته د رسېدو لپاره بیا تر ټولو د یو حکومت ژمنتیا او تعهد ضروري دی چې د هغه پر اساس شپه او ورځ د ټولو امکاناتو په کار اچولو سره هڅې کوي.

له نېکه‌مرغه واک ته د اسلامي امارت په رسېدو سره افغانستان د یو متعهد حکومت څښتن شوی. اسلامي امارت په ټول توان سره هڅه کوي چې د هېواد اقتصاد پیاوړی او هېوادوالو ته د ژوند اسانتیاوې برابرې کړي.

همدې موخه ته د رسېدو یوه لار له ګاونډیو په ځانګړې توګه د مرکزي اسیا هېوادونو سره د خپلو سوداګریزو اړیکو زیاتوالی او پراخوالی دی.

افغانستان د خپل ستراتیژیک موقعیت له امله د ټولو ګاونډیو هېوادونو لپاره پر سوداګریز او ترانزیتي شریک سربېره د پلور یو ښه بازار هم دی. د منځنۍ اسیا هېوادونه او په ځانګړې توګه ترکمنستان د ګازو له پلوه د نړۍ څلورم بډای هېواد بلل کېږي او هڅه کوي چې په پراخه پیمانه ځان ته پېرودونکي ومومي، خو له دې لارې د سوېل او سوېل لوېدیځې اسیا مارکېټ ته اسانه او ارزانه لاسرسی ولري چې له امله یې افغانستان نه یوازې دا چې ترانزیتي؛ بلکې نورې اقتصادي ګټې هم ترلاسه کولی شي.

له دې سره سره چې افغانستان د ترکمنستان ځینو محصولاتو لپاره ښه مارکېټ دی، برعکس بیا ترکمنستان د افغانستان د وچو او تازه مېوو او همدا راز د زعفرانو او بېلابېلو افغاني محصولاتو لپاره د بازارموندنې او له دې لارې نړۍ ته د خپلو محصولاتي توکو رسولو یوه ښه لار هم بلل کېږي. که دواړه هېوادونه له موجودو فرصتونو ښه استفاده وکړي، پرته له شکه چې د اقتصادي ودې په پرمختګ کې به یې رغنده رول ولوبوي.

نور دلته په همدې موضوع لنډې خبرې کوو.

## د افغانستان او ترکمنستان اقتصادي اړیکې

ترکمنستان په ۱۹۹۵ میلادي کال کې د افغانستان په اړه مثبته بې طرفه پالیسي تصویب کړه او د همدغه پالیسۍ په غوره کولو سره له افغانستان سره پراخ سوداګریز او اقتصادي تعامل ته را وړاندې شو. دغه بې ساري ګام د دواړو هېوادونو ترمنځ د اړیکو ښه والي او په راتلونکې کې په مختلفو برخو کې ګډو همکاریو ته لار پرانیسته. خو د تېرو شلو کلونو پر مهال هغسې چې لازمه وه، په دغه برخه کې کار ترسره نه شو چې مهم لامل یې په افغانستان کې د یو خپلواک او متعهد نظام نشتون و.

واک ته د اسلامي امارت په رسېدو سره یوځل بیا د کابل او عشق‌آباد ترمنځ د اقتصادي او سوداګریزو اړیکو پراختیا ته فرصت برابر شو او ښکاره یې دا ده چې دا ځل افغانستان د دغو اړیکو د پاللو لپاره یو متعهد او ژمن حکومت لري. همدې موخې ته د رسېدو لپاره څو ځلې افغان او ترکمن لوري ګډې ناستې کړې، چې مهمه هغه یې په دې وروستیو کې د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند او د ترکمنستان د بهرنیو چارو وزیر ترمنځ انلاین غونډه وه. د دغه غونډې پر مهال دواړو لورو د تاپي پروژې د عملي چارو په پیل، په تورغونډۍ بندر کې د اوسپنې پټلۍ شبکې پراختیا او هلته د سوداګریزو توکو د ساتلو په موخه د ګدامونو پر جوړولو، په افغانستان کې د برېښنا د تولید او همدا راز د اوسپنې پټلۍ شبکو د غځولو په برخه کې د ترکمن پانګوالو پر پانګونې او پر دې سربېره په مختلفو برخو کې د دواړو هېوادونو د اقتصادي او سوداګریزو اړیکو د پراختیا او په دغه برخه کې د ګډې همکارۍ رامنځته کولو په موخه عشق‌آباد ته د دغه هېواد په رسمي بلنه د ریاست‌الوزراء د اقتصادي مرستیال د سفر په اړه خبرې وکړې .

د افغانستان له لارې نورو هېوادونو ته د ترکمنستان د ګازو د صادراتو تر ټولو ښه پروژه تاپي ده. د دغه پروژې تطبیق به په افغانستان کې زرګونو کسانو ته په مستقیم او غیر مستقیم ډول د کار زمینه برابر کړي، د تاپي په مسیر کې 4 سب ستېشنونه جوړېږي، چې اړوندو سیمو ته به په ارزانه بیه ګاز ورکوي او پر دې سربېره به صنعتي پارکونو ته د ګاز او حرارتي برېښنا د رسولو فرصت هم رامنځته کړي. د تاپي پروژې په تطبیق سره افغانستان هر کال 400 میلیونه ډالر حق العبور ترلاسه کوي، چې د اقتصاد ترڅنګ د سیمې هېوادونو د اقتصادي ګټو په شریکولو سره د سیمې او افغانستان له ثبات سره مرسته کوي.



پر ګازو سربېره ترکمنستان د برېښنا ډېر لوړ ظرفیت لري. اوسمهال افغانستان له ترکمنستان څخه په لسګونو میګاواټه برېښنا واردوي، چې له دې برېښنا د هستوګنیزو کورونو په روښانه کولو او همدا راز په صنعتي فابریکو کې ګټه اخیستل کېږي. په افغانستان کې د برېښنا ستونزې د هوارې په موخه له ترکمنستان څخه د ۵۰۰ کیلوولټ برېښنا یوه تر ټولو مهمه او حیاتي پروژه ده چې په پلي کېدو سره به یې د پلازمېنې په ګډون د افغانستان په مرکزي، ختیځو او سوېلي ولایتونو کې د برېښنا ټولې اوسنۍ ستونزې حل شي. د دې پروژې تکمیل د دواړو هېوادونو ترمنځ اقتصادي اړیکې لاپیاوړې او غښتلې کوي، چې ډېره ګټه به یې افغانستان ته رسېږي. له دې وارداتي برېښنا سره سره ترکمن پانګوال لېواله دي چې په افغانستان کې د برېښنا د تولید په برخه کې پانګونه وکړي. افغانستان د برېښنا د تولید په برخه کې بې شمېره فرصتونه لري، چې مهم هغه یې لمریزه او بادي برېښنا ده. په افغانستان کې د برېښنا د تولید په برخه کې د ترکمن پانګوالو په پانګونې سره به د کابل او عشق‌آباد اقتصادي او سوداګریزې اړیکې لا پراخې شي او افغانان به وشي کولی په دغه برخه کې د ترکمن لوري له تجربو ګټه واخلي.

هرڅومره چې افغانستان په کور دننه د برېښنا د تولید په برخه کې خودکفایی ته رسېږي، هومره له هېواد څخه د پانګونې د فرار مخنیوی کېږي او په څنګ کې ورسره کورنۍ صنعت وده کولی شي او خلکو ته د کار زمینه برابرېدی شي.

اوسمهال د دواړو هېوادونو ترمنځ د توکو د وارداتو او صادراتو په موخه په هرات کې د تورغونډۍ او په فاریاب کې د آقینې بندرونه فعاله دي او په دې وروستیو کې د دواړو لورو ترمنځ د سوداګرۍ کچې د زیاتوالي په موخه د ۲۰۰ میلیون ډالرو په ارزښت 13 سوداګریز تړونونه لاسلیک شوي. د دغو تړونونو له مخې به د مرمرو ډبرې، ګول سیخ او د افغانستان تولید شوی رنګ ترکمنستان ته صادر شي چې له مخې به یې په یادو برخو کې د هېواد



ABAADI ONLINE WEEKLY

د اقتصـادي او تـولنيزو مسايلـو په برخـه کـې

د رياســت الوزراء اقتصادي معاونيت خبري اوونيزه

اباديِ اوونيزه

هفته‌نامه آبادی


صنعت وده وکړي. د رياست‌الوزراء له اقتصادي مرستيال سره په انلاين غونډه کې د ترکمنستان د بهرنيو چارو وزير وويل، عشــق‌آباد لبواله دی چې په تورغونډۍ بندر کې د اوسـپنې پټلۍ شبکې د پراختيا په موخه له اسلامي امارت سره په ګډه کار وکړي. افغانستان اوسمهال د همدغه بندر له لارې په اوونۍ کې سلګونه متريک ټنه سوداګريز توکي انتقالوي د پخــوا په پرتلــه د دواړو هېوادونو ترمنځ د ســوداګرۍ په کچه کې د پام وړ زياتوالی راغلی دی. که په دغه بندر کې د اوسپنې پټلۍ شبکې پراخېږي، جوخت به ورسره د دواړو هېوادونو سوداګري لا وغوړېږي.

د ترکمنســتان د بهرنيو چارو وزير همـــدا راز وويل، دوی چمتو دي چې په تورغونډۍ بندر کې د سوداګريزو توکو د ساتلو لپاره ګدامونه جوړ کړي. دا چاره به د دواړو هېوادونو د ســوداګرو لپاره ډېرې اسانتياوې رامنځته کړي، د ډېرو هغو ســوداګريزو توکو د خرابېدو مخنيوی به وکړي چې ژر خرابېږي.

تېــر کال د دواړو هېوادونو ترمنځ د ســوداګرۍ ارزښــت شــاوخوا ۴۸۱ ميليونو ډالرو ته‌رسېده. خو د دواړو هېوادونو ترمنځ موجودو فرصتونو څخه په اســتفادې سره دغه کچه تر يو ميليارد ډالرو او ان تر دې هم زياتېدلی شي.

اوسمهال افغانستان له ترکمنســتان څخه طبيعي ګاز، برېښـنا، وريجې، نباتي غوړي او يوشـــمېر نور خوراکي او غير خوراکي توکي په ارزانه بيه او کم لګښت سره واردوي او برعکــس بيا افغانســتان وچې او تـازه ميوې، افغاني غالۍ، د افغانســتان توليد رنګ، قيمتــي او نيمه قيمتي ډبرې او يوشــمېر نور توکي صادروي چې په دې وروستيو کې دواړو لورو لېوالتيا ښـودلې څو د راکړې ورکړې اندازه زياته کړي.

## پايله

په افغانســتان کې راغلی سرتاسري امنيت، واک ته د يو خپلواک نظام رسېدو او د اســلامي امارت اقتصاد محوره بهرني سياست ته په کتو سره د افغانستان او ترکمنستان د ســوداګريزو او اقتصادي اړيکو د پراخېدو لپاره ښه زمينه برابره شوې. ښه خبره دا ده چې د دغو اړيکو د پراخېدو

لــپاره دواړه لورې ژمنتيا او لېوالتيا لري. په همدې موخه د ترکمنســتان د بهرنيــو چارو وزير په دې وروســتيو کې د يوشــمېر اقتصادي مسايلو د تعقيب او د دواړو لورو د ګډو همکاريو په اړه د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند ته رسمي بلنه ورکړه څو عشق‌آباد ته سفر وکړي.

د دغه ســفر په ترسره کېدو او په مختلفو برخو کې د ګډو همکاريــو د رامنځتــه کېدو پــه صورت کې بــه د دواړو هېوادونو ترمنځ د ســوداګرۍ او ترانزيټ کچه زياته، نوي کاري فرصتونه به رامنځته او د ســيمې له اقتصادي ثبات سره به مرسته وکړي.

## د بهرنيو اسعارو بيې

د کابــل په شهزاده ســرای کې د افغانۍ پر وړاندې د بهرنيو اسعارو د نن ورځې بيې



| اندازه | پولي واحد | پېرل | پلورل |
|---|---|---|---|
| ۱ | امريکايي ډالر | ۷۰,۷۷؋ | ۷۰,۸۰؋ |
| ۱۰۰۰ | پاکستانی کلدارې | ۲۴۵؋ | ۲۴۵؋ |
| ۱۰۰۰ | ايراني تومن | ۱,۲۸؋ | ۱,۲۸؋ |
| ۱ | اروپايي يورو | ۷۸,۰۹؋ | ۷۸,۱۲؋ |
| ۱ | روسی روبل | ۰,۷۹؋ | ۰,۷۹؋ |

| اندازه | پولي واحد | پېرل | پلورل |
|---|---|---|---|
| ۱۰۰۰ | هندی کلدارې | ۸۴۴؋ | ۸۴۴؋ |
| ۱ | انګليسي پونډ | ۹۱,٦۰؋ | ۹۱,٦۴؋ |
| ۱ | سعودي ريال | ۱۸,۸٦؋ | ۱۸,۸۷؋ |
| ۱ | اماراتي درهم | ۱۹,۲۷؋ | ۱۹,۲۸؋ |
| ۱ | چيني ين | ۹,۸۸؋ | ۹,۸۸؋ |

